

## د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د واحدې دریځې له لارې د نویو خدمتونو پیل رسماً پرانیست .

د دې مرکز پرانیستل د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت له کاري لومړیتوبونو څخه وو او اصلي موخه یې د پیچلو کاري پروسو ساده او اسانه کول، د کارونو چټکتیا، د خدمتونو برېښنایي کول، د بیروکراسۍ ختمول، د فساد مخنیوي، د حقوقو ورکړه کې د روڼتیا رامنځته کول او تر یوه چتر لاندې په رڼه توګه د برېښنایي سیستمونو په وسیله د شهیدانو ورثې او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کول دي. د دې مرکز په جوړېدو سره کاري پروسې یا د اسنادو طی مراحل له ( ۷۲ ) هغو څخه ( ۱۲ ) پروسو ته راکمې شوي دي .